محور ورځپانه/ روزنامهٔ محور ٢٠١٣/٠٨/٠٣

# ولسمشر کرزی د پنجشیریانو په انحصار کې

د ولسمشر کرزي يو تازه اقدام چې له مخې يې د تفتيش اداري مشر شريف شريفي دنده شپږ کاله نوره تمديد شوي او د کليو پراختيا وزير وررور سرير برمک کمېشنر ټاکل شوی، خلک سخت پارولي چې په قومي مشارکت کې د تاجکانو ونډه يوازې پنجشيري جنګسالارانو ته ورکول کېږي. شريف شريفي د يونس قانوني او سرير برمک د کليو پراختيا وزير ويس برمک ورونه دي.
يوه تازه تر سره شوي احصائيه په ډاګه کوي، چې په اوسني دولت کې۷۰ سلنه مهم مقامونه له جميعت ګوند سره دي، چې لويه برخه يې بياهم پنجشيري جميعتيان تشکيلوي.

د قومي مشارکت په معيار د دولتي واک د وېش په تړاو ډېرى تاجکان نيوکه کوي، چې د دوى مشروع ونډه يوازې د يوې ورې درې زورواکو قوماندانانو ته ورکول کېږي او ولسمشر کرزی پدې جفا کې په بشپړه توګه ښکېل دی.

په داسي حال کې چې د ټاکنو په کمېسيون کې د فضل احمد معنوي جنجالي رول په تمامېدو دی، ولسمشر کرزي په ډېره بېړه په نهو کمېشنرانو کې سرير برمک چې د يو پنجشيري برحال وزير وررور دی، د خپل لومړي مرستيال په ټينګار د تاجکانو په استازيتوب دغه کمېسيون ته ورمعرفي کړی دی. د همدې اقدام ترځنګ په يو بل حکم کې د تفتيش او کنترول اداري د مشر شريف شريفي ماموريت چې له لسو کلونو وړاندې پيل شوی د شپږو نورو کلونو لپاره تمديد شوی دی.
په افغانستان کې د سمسمکي د دوام او ملي مصلحتونو په عنوان افغان ولسمشر په تېرو لسو کلونو کې د قومي تناسب په انډول دولتي مشارکت مهم معيار ګڼلی او په همدې اساس د واک وېش او دولتي ټاکني کوي، خو اوس ډېر تاجکان نيوکه کوي، چې د دوى ونډه يوازې د پنجشير اړوند زورواکانو په انحصار کې ساتل شوي او ولسمشر کرزی په لوی لاس دغه قومي استازيتوب خپلو سازش کارانو ته سپاري.

په وروستيو دريو ورځو کې د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي استاد ښاغلي جلال جلال اعتراضونو د کابل د ميډيا کوڅې خورا غالمغالي کړې، چې همدا موضوع يې په جديت سره راپورته کوي. ښاغلی جلال او پلويان يې وايي، له قومي مشارکتي انډول سره بايد منصفانه چلند وشي او د پنجشير او مارشال له انحصاره راوايستل شي.

له بلې خوا په دولتي مقامونو کې د پنجشيريانو د ونډې په اړه يوه تازه سروې په ډاګه کوي، چې د لسو کلونو په تيرېدو سره لاهم مهمې دولتي څوکۍ له پنجشيري قوماندانانو سره دي، چې په هيڅ ډول د مسلکي کادرونو او قومي استازيتوب معيارونه نشي پوره کولای.

د سروې په جزياتو کې راغلي، چې د دولتي مقامونو په لومړۍ، دويمه او دريمه کټګورۍ کې۷۰ سلنه چارواکي په جميعت ګوند او نظار شورا پورې تړاو لري، خو د دغې ونډې زياتره يې له پنجشيري جميعتيانو سره ده. معلومات په ډاګه کوي، هر پنجشيري مقام د خپل دولتي ارګان په دننه کې په چټکۍ سره ټاکني او تر پنځوس سلني تغيرات راولي چې تر زياتي کچې په مسلکي معيارونو برابر ندي.

د دفاع، کليو پراختيا وزارتونو مشرتابه او د ملي امنيت سرپرستي، د ترافيکو لوی رياست، د بانک رهبري، د تفتيش او کنترول اداري رياست، د المپيک رياست، د ماليي وزارت، مشرانو جرګي مرستيالي د دغو ونډو په سرکې راځي چې رهبري يې په مطلق ډول له پنجشيريانو سره ده.

په کورنيو چارو وزارت کې ۱۰۰ جنرالان او په دفاع وزارت کې ۲۰۰جنرالان چې اکثره يې نالوستي او اعزازي مقامونو واله دي، په جميعت ګوند او پنجشير پورې تړاو لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دریو مهمو قول اردوګانو مشرۍ او یوازې د کابل ښار څلور امنیتي حوزو امریتونه له پنجشیري چارواکو سره دي. د سروې جزیات په ډاګه کوي، چې د ملي امنیت د مشر اسدالله خالد له ټیپي کېدو وروسته د دغه اداري مرستیال حسام الدین حسام ترڅلور سوه زیات جمیعتیان په ولایتونو کې د دغه ادرې په مهمو مقامونو ګومارلي دي.

په ملکي ارګانونو کې د وضاحت یوه برخه څرګندوي، چې اولس (۱۷) معینان په نظار شورا پورې تړاو لري. د افغان سفارتونو په اړه په ډاګه شوې، چې په سفیرانو سربېره د دغو ادارو ۸۰ سلنه کارکوونکي پنجشیریان دي، چې د ډاکترعبدالله د واک پر مهال بهرنیو هېوادونو ته تللي او لاهم خپلو دندو ته په ناقانونه توګه دوام ورکوي.

د سروې تر ټولو اساسي برخه د ملي المپیک کمېټې په مشر د مرکه کوونکو انتقاد دی، چې پخپله اداره کې د جنګي قوماندانۍ په دود چلند کوي او زیاتره ټاکنې یې مطلق ذوقي او سیمه ییزې دي. همدا رنګه سروې وایي، د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون مرستیال جلال چې د ولسمشر کرزي د لومړي مرستیال قسیم فهیم خوریی دی، اجباراً په هغه اداره تپل شوی او یوازې د مارشال د ملاقاتونو د رپوټونو څارنه یې لومړیتوب ټاکل شوی دی. تر پنجشیریانو وراخوا ډېری نور پخواني تنظیمي مشران او سیمه ییز قوماندان هم ولسمشر کرزی مجبوروي چې په هر وزارت، ولایت او دولتي ارګان کې مناسبه ونډه ورکړي. د ولایتونو په کچه قومي تناسب تر یوې کچې مراعات شوی خو پنجشیر بیاهم یوازینی ولایت دی، چې ۹۹ سلنه چارواکي او مامورین یې له پنجشیر ولایت څخه دي.

د ۱۳۹۱ کال په حوت میاشت کې د حکومت د تشکیلاتو یوې څانګې معلوماتو په ډاګه کړې وه، چې د ۱۴۰۰ ریاستونو ۹۸۰ یې د پنجشیریانو له خوا اداره کېدل.

محور ته یو مهم دولتي مقام ویلي، چې ولسمشر کرزي ته د بانفوذه جمیعتیانو په شمول ډېری تاجکانو په بیا بیا د لیکونو او مستقیمو تماسونو په ترځ کې شکایت کړی، چې په ډېره بې انصافۍ یې ونډه د پنجشیریانو په انحصار کې ورکړل شوې ده او د حکومت لومړی سړی پکې د معاملې په دود ښکېل دی.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ